هفتم سپتمبر ۲۰۱۱

نویسنده و دانشمند گرانمایۀ افغان، جناب محب سپین غر!
در کمال مسرت نوشتۀ مختصر و جالب تان را دریافت کردیم که همکاریهای جناب عالی را با پورتال "افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان" نوید میدهد. بدین وسیله مقدم شما را در پورتال از صمیم قلب گرامی داشته و "بنه راغلاست" میگوئیم. آرزومندیم که نوشته های ثمربخش شما بر رونق و زیب و زینت پورتال بیفزاید. برمراد و سرفراز باشید.

با محبتهای فراوان

ادارۀ پورتال ***AA-AA***

**محـــــب سپین غر**

المان ـ ۰۷.۰۹.۲۰۱۱

# جـــالب خبر

د نایجریا مرکزي بانک خپل هغه پلان په ډاګه کړ چې پر بنسټ یې غواړي د خپلو مالي زېرمو لسمه برخه د ډالرو پر ځای د چین ملي پیسې یوان ته واړوي. په دې توګه نایجریا لومړنی افریقایي هیواد دی چې په نړیوال اقتصادي ډګر کې داسې یو ګام اوچتوي. د نایجریا د ملي بانک مشر سانوسي لامیدو سانوسي ویلي چې د امریکا د متحدو ایالتونو د بودجې کسر او د پور اداکولو د باور راټیټیدلو او دغه راز په اروپا کې د پور ورکوني کړکیچ د داسې یوه ګام اوچتولو ته هڅولی دی. د څارونکو په وینا دا ګام په حقیقت کې د افریقا په لویه وچه کې د چین د لیوالتیا او اغیز د پیاوړي کیدو یوه بله نښه ده.